څېړنيار احسان الله احسان

# د افغانستان-پاکستان په اړيکو ښه کولو کې د چين رول او موخې

## China's role and goals in improving Afghanistan-Pakistan relations

Assistant Researcher Ihsanullah Ihsan

**Abstract:** Afghanistan and china are two neighboring countries in the region that have 76 km joint border and have a long history of relations with together, but their formal and diplomatic relations have been established in 1955. Since 2001, China took steps very carefully in Afghanistan's affairs but after coming to power of President Ghani, its relations with Afghanistan entered to a new phase. It means China has started its involvement in the case of Afghanistan, and started the trilateral meetings between Afghanistan-China-Pakistan foreign ministers for the betterment of Kabul-Islamabad relations. China wants on the one hand to maintain its strategic partner Pakistan's prestige based terrorists protecting and from other hand, China tries to prevent and decrease their joint competitor India's influence in Afghanistan and the region.

**لنډیز**

افغانستان او چین په سیمه کې دوه داسې ګاونډي هېوادونه دي چې په خپلو کې د ۷۶ کیلومتره ګډې پولې په لرلو سره د اړیکو یو اوږد او لرغونی تاریخ لري، خو د دواړو هېوادونو ترمنځ رسمي او ډیپلوماتیکې اړیکې پر ۱۹۵۵ کال رامنځ ته شوې دي. چین د افغانستان په چارو کې له ۲۰۰۱ کال راهیسې په ډېر احتیاط سره قدم پورته کړی، خو واک ته د ولسمشر غني په رسېدو سره یې له افغانستان سره اړیکې یوه نوي پړاو ته ننوتې؛ یعنې چین نور د افغانستان په قضیه کې خپله ښکېلتیا ډېروي او په همدې موخه یې د کابل-اسلام آباد د اړیکو رغولو لپاره د کابل-بیجینګ-اسلام آباد د بهرنیو چارو وزیرانو په کچه درې اړخیزې غونډې پیل کړې، تر څو وکولای شي له یوې خوا ترهګرو ډلو ته د خوندي پناه ځایونو ورکولو له امله د خپل ستراتیژیک ملګري پاکستان تللی پرستېژ اعاده کړي او له نړیوالې انزوا څخه یې وژغوري او له بلې خوا هڅه کوي چې د سیمې او افغانستان په تعاملاتو کې د خپل او پاکستان ګډ سیال (هند) د نفوذ مخه ونیسي.

**سریزه**

چین د سیمې هغه هېواد دی چې تر ډېره پورې په نورو هېوادونو کې په ښکاره ډول استعماري موخې نه لري له همدې کبله په ټولیز ډول د سیمې له هېوادونو سره دوستانه اړیکې هم لري. له تېرو څو کلونو راهیسې په ځانګړې توګه له ۲۰۱۴ کال څخه را وروسته، چې له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو ډېره برخه ووته، چین د افغانستان په لور پاملرنه زیاته کړې ده. دغه راز په افغانستان کې د ملي یووالي حکومت له جوړېدو را وروسته افغانستان هم چین ته په خپل بهرني سیاست کې ځانګړی ځای ورکړی دی. په تېرو څلورو کلونو کې د دواړو هېوادونو د جګپوړو چارواکو سفرونه او لیدنې کتنې زیاتې شوې، چې په همدې لړ کې د ولسمشر محمد اشرف غني له رسمي سفر څخه وروسته د افغانستان د ملي امنیت شورا پخواني سلاکار محمد حنیف اتمر هم تېر کال د چین د مرستیال ولسمشر په رسمي بلنه بیجېنګ ته سفر وکړ او هلته یې د چین له جګپوړو سیاسي او پوځي چارواکو سره وکتل. هغه مهال چین ته د حنیف اتمر سفر د نورو مسایلو تر څنګ، د افغانستان او پاکستان تر منځ د شته بې باوریو له منځه وړلو او د افغانستان په سوله او ثبات کې د پاکستان د رېښتونې مرستې لپاره ډېر مهم و ګڼل شو. له دې څخه وروسته په دې وروستیو کې د افغانستان د ملي امنیت شورا سلاکار حمدالله محب هم په یوه دوه ورځني سفر چین ته ولاړ او هلته یې له خپل چینایي سیال او نورو چینایي

چارواکو سره وکتل. په دې ليدنه کې چينايي چارواکو د افغانستان-چين د ستراتيژيکو اړيکو د پراختيا تر څنگ په افغان سوله کې له افغان دولت سره خبرو اترو ته د وسله والو طالبانو په مخامخ کښېنولو کې د چين اغېزمن رول لوبولو باندې هم خبرې وکړې.

په دې علمي- څېړنيزه مقاله کې هڅه کوو، تر څو دې اصلي پوښتنو ته چې د افغانستان-پاکستان په اړيکو کې چين څه ډول رول لري؟ د افغانستان-پاکستان په اړيکو ښه کولو کې د چين موخې څه دي؟ او ځينو نورو پوښتنو ته ځوابونه ومومو. د څېړنې له اصولو سره سم د دغو اصلي پوښتنو فرضي ځواب دا دی چې د افغانستان-پاکستان په اړيکو کې چين د يوه تسهيلوونکي او منځگړي هېواد په توگه رول لري او د يادو دواړو هېوادونو ترمنځ د تاوتريخجنو اړيکو شتون د خپل کورني امنيت د خرابوالي او په سيمه کې يې د خپلو لويو اقتصادي پروژو د پلي کولو لپاره لوی خنډ بولي.

**د څېړنې مبرميت:** دا چې په دې وروستيو کلونو کې چين د افغانستان-پاکستان د اړيکو ښه کولو په موخه په بيجينگ او کابل کې درې اړخيزې غونډې پيل کړي او تازه په تازه يې د سيمې د يوه ځواکمن هېواد په توگه د افغانانو په مشرۍ د افغان سولې په اړه د مرستې ژمنې کړې، نو اړتيا ليدل کېږي، چې په يوه علمي-څېړنيزه مقاله کې د افغانستان-پاکستان په اړيکو کې د چين رول او موخې تر بحث او څېړنې لاندې ونيول شي.

**د څېړنې موخه:** د دې علمي-څېړنيزې مقالې د څېړلو لنډه موخه د افغانستان-پاکستان په اړيکو ښه کولو کې د چين رول روښانه کول او پورتنيو اصلي پوښتنو ته ځواب موندل دي.

**د څېړنې ميتود:** د دې علمي-څېړنيزې مقالې په ليکلو کې د څېړنې له توصيفي-تحليلي ميتود څخه کار اخيستل کېږي.

د دې لپاره چې ( د افغانستان-پاکستان په اړيکو ښه کولو کې د چين رول او موخې) تر سرليک لاندې علمي-څېړنيزه مقاله مو ښه څېړلې وي او پورتنيو اصلي او ځينې نورو ضمني پوښتنو ته مو ځواب موندلی وي، نو لومړی د افغانستان-پاکستان په اړيکو ښه کولو کې د چين رول او ور پسې د افغانستان-پاکستان په اړيکو ښه کولو کې د چين موخې په جلا جلا سرليکونو کې تر څېړنې لاندې نيسو.

## لومړی- د افغانستان- پاکستان په اړيکو ښه کولو کې د چين رول

د چين هېواد رسمي نوم د چين د خلق جمهوريت ( People's Republic of China) دی؛ د آسيا لويې وچې په ختيځ کې پروت او د ۲۰۱۷ کال د نړۍ د هېوادونو د ډېر نفوس لرلو د فهرست له مخې ۱،۴۰۴ ميلیارده نفوس لري. چين د نړۍ لومړی

درجه ډېر نفوس لرونکی هېواد ګڼل کېږي چې ان د ټولې نړۍ پنځمه برخه نفوس جوړوي. همداراز چین ۹۵۹۶۹۶۱ کیلو متره مربع مساحت لري چې له روسیې او کاناډا څخه وروسته د نړۍ درېیم لوی هېواد ګڼل کېږي. د پیسو نړیوال صندوق د معلوماتو له مخې چین اوس مهال له امریکا متحده ایالاتو څخه وروسته د نړۍ دویم ستر اقتصادي هېواد ګڼل کېږي.[1] په دې کې هیڅ شک نشته چې چین له کمونستي انقلاب څخه وروسته د سیمې او له سیمې څخه بهر هېوادونو سره اړیکې لري او دغه اړیکې نه یوازې د دې لامل شوي چې په سیمه کې له هېوادونو سره په اړیکو کې لرلو سره د هېوادونو ترمنځ د سیاستونو د ټکر رامنځ ته کېدو لامل شي، بلکې په نړیواله کچه هم د خپلو ځانګړو سیاسي او اقتصادي پالیسو په اختیارولو سره یې په نړیوال سیاست هم ډېر اغېز کړی او ان په نړیوال سیاست کې هم د لویو هېوادونو د سیاستونو ترمنځ د تقابل او ټکر لامل ګرځېدلی دی.

افغانستان او پاکستان په سیمه کې دوه داسې ګاونډي هېوادونه دي چې له ډېره وخته راهیسې یعنې ان د پاکستان د پیدایښت له ۱۹۴۷ کال څخه نیولې تر ننه پورې د ډیورنډ فرضي کرښې او ځینو نورو مسایلو له امله په خپلو کې ښې اړیکې نه لري او په ځینو وختونو کې خو ان د دواړو هېوادونو ترمنځ دیپلوماتیکي اړیکې هم د پرې کېدو تر کچې رسېدلې دي. له بلې خوا بیا چین په سیمه کې یو داسې هېواد دی چې له افغانستان او پاکستان دواړو هېوادونو سره ګډه پوله او ښې اړیکې لري. چین په دې وروستیو کې په افغان سوله کې د منځګړي رول لوبولو او یا هم لږ تر لږه په دې برخه کې د مرستې او ښکېلتیا لېوالتیا ښکاره کړې ده. وړاندې له دې چې د افغانستان-پاکستان په اړیکو ښه کولو کې د چین رول روښانه کړو؛ لومړی غواړو په سیمه کې له افغانستان او پاکستان سره د چین اړیکو باندې لږ تم شو او دا روښانه کړو چې له یادو دواړو هېوادونو سره د چین اړیکې څه وخت او څنګه رامنځ ته شوي؟ او اوس په کوم حالت کې دي؟ او وروسته به بیا د افغانستان-پاکستان په اړیکو کې د چین په رول باندې په تفصیل سره بحث وکړو.

**1-** چین له پاکستان سره ډېرې پخوانۍ او ستراتیژیکې اړیکې لري. یعنې کله چې په چین کې کمونستي انقلاب رامنځ ته شو، نو پخوانی شوروي اتحاد لومړنی هېواد و چې د چین د خلکو جمهوریت (People's Republic of China) یې په رسمیت وپېژانده او پاکستان بیا لومړنی اسلامي هېواد شو، چې د چین د خلکو جمهوریت یې په رسمیت وپېژانده، کوم څه چې د چین-پاکستان پر اړیکو یې تر ننه مثبت اغېز درلودلی، خو د

پاکستان او چین ترمنځ ډیپلوماتیکي اړیکې بیا په رسمي ډول د ۱۹۵۱ ز.کال د مې میاشتې په ۴مه پیل شوې دي. دلته د یوې مسئلې روښانه کول اړین دي، هغه دا چې د پاکستان-چین اړیکې څه وخت د هند خلاف دومره نږدې او پیاوړې شوې؟ په لومړیو کې د هند او چین ترمنځ مناسبات هم ښه وو او دوی به خپلو اړیکو ته د «هندي-چیني بهایي بهایي» شعار ورکاوه (یعنې چینایان او هندیان ورونه دي). هغه مهال د پاکستان او چین اړیکې ډېرې ښې نه وې، ځکه پاکستان له امریکا او لوېدیځ سره د سېټو او سېنټو په تړونونو کې ننوتلی و، خو کله چې په تبت کې د چینایانو له خوا عملیات ترسره شول او هند تبتی روحاني مشر "دلای لاما" ته پناه ورکړه او ترڅنګ یې د هند او چین ترمنځ د پولې پر سر اختلافات هم راپیدا شول. هماغه و چې د دواړو هېوادونو ترمنځ اړیکې خرابې شوې او په ۱۹۶۲ ز.کال کې بیا د هند او چین تر منځ د پولې پر سر جګړه رامنځ ته شوه چې هند په دې جګړه کې ماتې وخوړه او د اقصای چین، دمکاک او لداخ ستراتیژیکي سیمې یې هم له هند څخه ونیولې. له دې جګړې څخه وروسته د چین-پاکستان اړیکې ورو ورو مخ په ښه کېدو شوې.[2]

په ۱۹۶۵ ز.کال کې د پاکستان-هند له جګړې وروسته، د پاکستان او چین ترمنځ دفاعي اړیکې لا پراخې شوې او په ۱۹۷۲ ز.کال کې یې د ستراتیژیکې ملګرتیا رنګ واخیست. کله چې پخواني شوروي اتحاد پر افغانستان یرغل وکړ، چین د پاکستان له دریځ څخه ملاتړ وکړ او ترڅنګ یې له پاکستان سره د "جي ایف ۱۷" جنګي الوتکو، الخالد ټانک او میزاییلو په جوړولو کې او د دغه هېواد له اتومي پروګرام سره هم مرستې وکړې.[3] هغه مهال د پاکستان او چین ملګرتیا په دومره ځواکمن شکل پیل شوې، چې ان دغو اړیکو غربي بلاک ته د پاکستان په تګ هم زیان ونه لید. په ټوله کې داسې ویلای شو چې دا دواړه هېوادونه تر ډېره له هند سره ګډې دښمنۍ، اقتصادي او ستراتیژیکو ګډو ګټو یوځای کړي دي.

د سویلي آسیا لپاره د امریکا له نوې ستراتیژۍ له اعلان څخه وروسته چې په هغه کې پاکستان ترهګرو ته په پناه ورکولواو د مالي مرستو برابروونکی بلل شوی وو، پیکنګ تر ډېره د خپل متحد اسلام آباد تر څنګ ودرید. د نوې ستراتېژۍ د اعلان پر مهال د امریکا ولسمشر او نورو چارواکو وویل چې نور د پاکستان په خاوره کې د ترهګرو خوندي پناه ځایونه زغملی نه شي او پر ضد به یې اقدام وکړي، خو هماغه مهال چین ویلي وو چې نړۍ باید د تروریزم پر وړاندې مبارزه کې د پاکستان هڅې ومني او له امریکا یې وغوښتل چې د پاکستان ملي حاکمیت او د دغه هیواد مشروع اندېښنو ته درناوی وکړي. د چین د بهرنیو

چارو وزارت ویندويې وويل چې «پیکینګ د افغانستان په اړه له امریکا سره د همکارۍ غوښتونکی دی، خو د افغانستان په مسأله کې د پاکستان د مهم رول یادونه باید وکړي.» د دغې ستراتیژۍ له اعلان سره سم څینو هیوادونو په ځانګړې توګه چین او روسیې له اعلان شوې ستراتیژۍ سره خپل مخالفت اعلان کړ. څکه اوس د امریکا د نوې ستراتیژۍ پر وړاندې د چین او روسیې دریځ بدلون موندلی او دوی فکر کوي چې ګواکې په سیمه کې د یوې نوې جګړې پیلامه اعلان شوې ده. چینایې چارواکو په نوې ستراتیژۍ باندې د پاکستان په ګټه نیوکې کړې او ویلي یې دي چې پاکستان د ترهګرۍ ستر قرباني هېواد دی، خو امریکا یې یادونه نه ده کړې.[٤]

**۲-** افغانستان او چین په سیمه کې دوه ګاونډي هېوادونه دي چې په خپلو کې ۷۶ کیلومتره ګډه پوله او د اړیکو یو اوږد او لرغونی تاریخ لري، خو د دواړو هېوادونو رسمي او دیپلوماتیکې اړیکې بیا په ۱۹۵۵ ز.کال کې رامنځ ته شوې او عبدالصمد خان لومړی افغان سفیر و چې چین ته واستول شو.[٥] چین له همدې نېټې څخه نیولې تر ننه پورې له افغانستان سره اړیکې لري، خو له ۱۹۹۶ څخه تر ۲۰۰۱ ز.کال پورې د طالبانو واکمني یې په رسمیت ونه پېژانده، بلکې د پاکستان له لارې یې له هغوی سره غیر مستقیمې اړیکې پاللې. دلته د یوې خبرې یادونه اړینه ده چې له تاریخي پلوه د افغانستان-چین اړیکې په یو ډول نه یو ډول د افغانستان-پاکستان اړیکو سره تړلې دي. یعنې څرنګه چې د افغانستان-پاکستان اړیکې له کومو حالاتو تېرې شوې، نو له شک پرته د افغانستان-چین اړیکو ور څخه رنګ اخیستی دی. څکه چې پاکستان له یوې خوا د چین لوی ستراتیژیک ملګری او له بلې خوا پاکستان د چین د پوځي مهماتو او وسایلو تر ټولو لوی اخیستونکی هېواد دی.[٦]

د افغانستان او چین ترمنځ د دیپلوماتیکو اړیکو له رامنځ ته کېدو څخه نیولې تر ننه پورې د دواړو هېوادونو ترمنځ اړیکې دوستانه پاتې شوې او دغه هېواد د افغانستان په لور منفي دریځ نه دی لرلی. همدا لامل دی چې ډېری افغانان د چین په تړاو مثبت فکر او تصور لري. یعنې له نورو هېوادونو سره د افغانستان په دوه اړخیزو اړیکو کې افغان – چین یوازینۍ اړیکې دي، چې په تېره یوه نیمه لسیزه کې یې هم بې ثباتي نه ده تجربه کړې. د حامد کرزي د واکمنۍ په دواړو دورو او په ځانګړې توګه دویمه دوره کې د کابل – واشنګټن اړیکو د خرابوالي له کبله دا اړیکې تودې شوې، خو د ملي یووالي حکومت له راتګ سره یوه نوي پړاو ته داخلې شوې. د ملي یووالي حکومت په څلور کلنه موده کې چین د افغانستان په قضیه کې خپله ښکېلتیا زیاته کړه. افغانستان ته د

جگپوړو چینایي چارواکو د سفرونو تر څنگ یې، د افغان سولې بهیر په څلور اړخیزو مذاکراتو کې برخه واخیسته، د افغان - پاک اړیکو د رغولو لپاره یې د بهرنیو چارو وزیرانو په کچه درې اړخیزې غونډې پیل کړې او له کابل سره یې په پوځي ډگر کې هم خپلې مرستې زیاتې کړې.[۷]

د ۲۰۱۷ کال په اکتوبر کې د چین د کمونېست گوند په ۱۹مه کنگره کې د افغانستان او چین په ستراتېژیکه ملگرتیا کې نوی پرمختگ ولیدل شو او دا ملگرتیا یوه نوي پړاو ته داخله وبلل شوه چې له مخې یې په اوسني وخت کې چین هڅه کوي، افغانستان د سیمې او نړۍ د هېوادونو تر منځ د اقتصادي همکاریو په مرکز بدل شي او په دې برخه کې د «یوه کمربند - یوې لارې» پروژه ځانگړې اهمیت لري.

په تېرو څلورو کلونو کې د افغانستان او چین ولسمشرانو درې ځله سره کتلي او تر څنگ یې په دې موده کې د افغانانو او چینایانو تر منځ د افکارو تبادله او تگ راتگ هم په بې مخینې ډول زیات شوی دی. چین نه یوازې دا چې له افغان حکومت سره خپلې اړیکې پیاوړې ساتلې، بلکې د دواړو هېوادونو تر منځ یې د خلکو - خلکو او مدني ټولنو د اړیکو پیاوړتیا ته هم زمینه برابره کړې او له دې لارې چین هڅه کوي چې په افغانستان کې خپل نرم ځواک زیات کړي.

په بل اړخ کې چین هغه هېواد دی چې په افغانستان کې پراخ اقتصادي حضور لري. د مس عینکو کان د استخراج او د امو حوزې د تېلو را ایستلو د قراردادونو اخیستل، اقتصادي مرستې او د سوداگرۍ په ډگر کې پراخ حضور یې د یادولو دي. په دې برخه کې د دواړو هېوادونو د سوداگرۍ کچه په ۲۰۱۵ ز.کال کې تر یو میلیارد ډالرو واوښته.

د تېر کال په وروستیو کې د افغانستان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانگړي استازي زلمي خلیلزاد له ټاکل کېدو وروسته د امریکایي او طالب لوړ پوړو پلاوو ترمنځ مخامخ خبرې پیل شوې چې چین د طالب او امریکایي پلاوو ترمنځ د وروستیو ناستو په تړاو خوشبیني ښوده او ویې ویل چې د افغانانو په مشرۍ د سولې له خبرو اترو څخه ملاتړ کوي. له همدې امله څه موده وړاندې د افغانستان د ملي امنیت شورا سلاکار حمدالله محب له هند څخه وروسته په یوه دوه ورځني سفر چین ته ولاړ چې هلته یې له خپل چینایي سیال او نورو چینایي چارواکو سره د دواړو هېوادونو ترمنځ پر ستراتیژیکو اړیکو او د افغانستان د سولې په پروسه کې د چین پر رول باندې خبرې اترې وکړې. دغه سفر ته افغانان تر ډېره خوشبینه وو. ځکه چې چین په سیمه کې له یوې خوا یو لوی اقتصادي اغېزمن لوبغاړی دی او له بلې خوا له پاکستان سره

ډېرې نږدې او ستراتیژیکې اړیکې لري چې له شک پرته به د افغانستان د سولې په برخه کې پر پاکستان فشار راوړي، تر څو د افغانانو په مشرۍ د سولې په پروسه کې مرسته وکړي. د ملي امنیت شورا سلاکار ته چینایي چارواکو وویل چې د افغانستان د سولې روان بهیر ترڅنګ به له ترهګرۍ سره په مبارزه کې هم د افغان حکومت کلکه مرسته کوي.[۸] که څه هم د افغان سولې په برخه کې د چین رول په اړه امریکا کلک مخالفت لري او په ډاګه یې ویلي چې چین په افغان سوله کې نه کوم طرف دی او نه هم څه رول لوبولای شي او په دې اړه یې له پاکستان څخه غوښتي چې نور د افغان سولې په برخه کې د چین له رول یادولو څخه لاس واخلي، خو پاکستان بیا ویلي چې په افغان سوله کې اصلي لوري خپله افغانان دي، د سیمې څواکمن هېوادونه یوازې د تسهیلونکو هېوادونو په توګه رول لوبولای شي.[۹]

په هر صورت، په ټوله کې داسې ویلای شو چې د سیمې د هېوادونو همکاري په افغانستان کې د سولې لپاره حتمي ده. له دغه ډول همکارۍ پرته په افغانستان کې د ثبات لپاره هڅې دغه هېواد اوږدمهالې سولې ته نه شي رسولی. په افغانستان کې د تاوتریخوالي او جګړې دوام هم تر نورې نړۍ د سیمې د هېوادونو ډېر پر زیان دی. د تاوتریخوالي پر خپراوي سربېره د جګړې دوام په سیمه کې د رفاه او سوکالۍ لپاره له شته فرصتونو ګټه اخیستل هم ستونزمنوي. له همدې کبله د نورې نړۍ په پرتله د سیمې له هېوادونو په ځانګړي ډول ګاونډیانو یعنې له پاکستان او ایران پرته، د افغان سولې په بهیر کې د ډېرې مرسته تمه کېږي، ځکه دغه کار یې د جګړې اور ته تر لمنې وهلو ډېر په ګټه دی. چین یو له هغو هېوادونو دی چې په افغانستان کې د جګړې له دوامه تر نورو ډېر زیانمنېدلی شي. د چین په مورد کې هم د تاوتریخوالي د خپرېدو د وېرې بحث مطرح دی، خو تر دې مهمه موضوع بیا په سیمه کې د چین د سترو اقتصادي پروژو پر وړاندې خنډونه دي. په افغانستان کې د جګړې دوام یوازې په دغه هېواد کې نه، بلکې په ټوله منځنۍ او سویلي آسیا کې د چین د اقتصادي ګټو پر وړاندې خنډ کېدای شي، ځکه تاوتریخوالی تل یوازې تر افغانستان پورې محدود نه شي پاتې کېدای.

چین له پاکستان سره، چې په سیمه کې د ترهګرۍ د ځالې په سترګه ورته کتل کېږي، ژورې او ستراتیژیکې اړیکې لري. اسلام آباد له همدې اړیکو ډېر کله له نړیوالو فشارونو څخه د خلاصون د وسیلې په توګه هم کار اخلي. کله چې پاکستان د لوېدیځ له فشار سره مخ کېږي، له چین سره خپلې اړیکې د معادلې د تعادل په توګه کاروي. که بیجېنګ پر اسلام آباد له خپل نفوذ څخه سمه ګټه پورته کړي، نو له شک پرته له افغان

سولې سره د پام وړ مرسته کولی شي. یعنې چین اسلام آباد ته قناعت ورکولی شي چې په افغانستان کې تاوتریخوالی د بیجینګ ګټې ګواښي او دغه کار په مستقیم ډول د پاکستان او چین دوه اړخیزې اړیکې متاثره کولی شي. پر افغانستان سربېره په سیمه کې د ترهګریزو فعالیتونو دوام حتی په پاکستان کې د چین د اقتصادي پروژو پر وړاندې یوه ننګونه کېدای شي. له دې کبله چې د چین ګټې په افغانستان کې د ثبات پر مټ خوندي کېدای شي، نو له بیجینګ څخه د افغان سولې له بهیر سره د ډېرې مرستې تمه کېدای شي. د افغانستان حکومت باید دې ټکي ته په پام له چین سره د اړیکو پراختیا ته ځانګړی پام وکړي، تر څو بیجینګ پر پاکستان له خپل نفوذ څخه په استفادې اسلام آباد د وسله والو او ترهګرو ډلو له ملاتړه را وګرځوي او د افغانانو په مشرۍ د افغان سولې په برخه کې یې ریښتونې مرستې ته اړ کړي.

## دویم- د افغانستان-پاکستان په اړیکو ښه کولو کې د چین موخې

د افغانستان او چین دوه اړخیزې اړیکې له ۲۰۰۱ کال څخه تر یوې لسیزې پورې عادي وې، خو په ۲۰۱۲ کال کې چین او افغانستان خپلې دوه اړخیزې اړیکې، «ستراتېژیکو اړیکو» ته پورته کړې. که تېرو څو کلونو ته ځیر شو، نو په افغانستان کې د سولې او ثبات په هلو ځلو کې د چین رول او ښکېلتیا زیاته شوې چې د افغانستان په لور د چین د زیاتېدونکې لېوالتیا او پاملرنې ښودنه کوي او مهم لامل یې هم له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو د ډېرې برخې وتلو او د افغانستان شمال ته د ناامنیو لېږد بللی شو. یعنې چین له یوې خوا د افغانستان په شمال کې د ناامنیو له کبله د خپل کورني امنیت او له بلې خوا په سیمه کې د خپلو سترو اقتصادي پروژو له کبله د سیمه ییز امنیت په اړه اندېښنې لري. له همدې کبله چین له دوو اړخونو څخه د افغانستان په امنیت او ثبات کې رول لوبوي. له یوې خوا پر پاکستان د خپل نفوذ له لارې او له بلې خوا له افغانستان سره د خپلو پوځي مرستو د زیاتولو له لارې. همدا لامل دی چې په بدخشان کې د یوه پوځي مرکز د جوړېدو ملاتړ کوي او د افغانستان د ملي امنیت پخواني سلاکار حنیف اتمر هم بیجینګ ته په خپل وروستي سفر کې له هغه هېواد څخه د بدخشان د غرنۍ لېوا د تجهیز غوښتنه کړې وه. په بل اړخ کې په دې وروستیو کې چین د افغانستان په لور د خپلې زیاتېدونکې لېوالتیا له کبله غواړي چې د افغانستان د سولې په بهیر او بین الافغاني تفاهم کې هم رول ولوبوي. له همدې کبله چین په ۲۰۱۵ کال کې د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د ارومچي د غونډې کوربه‌توب وکړ او د اسلام آباد د مري په مخامخ خبرو کې یې هم د څارونکي رول ولوباوه، خو په

څلور اړخیزو خبرو اترو کې یې خپل رول نور هم زیات کړ. په همدې موخه، چین له طالبانو سره هم نسبي تفاهم لري، د طالبانو جګپوړو پلاوو څو ځله چین ته سفرونه کړي او دواړه لوري د یو بل پر وړاندې نرم چلند لري.[10]

د افغانستان-پاکستان په اړیکو کې د چین موخې د درې واړو هېوادونو ترمنځ د درې اړخیزو غونډو له آجنډا او د خبرو اترو له اجنډاوو څخه ښه موندلای شو. یعنې کله چې په ۲۰۱۲ ز.کال کې د افغانستان – چین – پاکستان ترمنځ درې اړخیزې خبرې اترې پیل شوې، د بحث اصلي اجنډا یې له هماغه پیله د سیمې امنیتي وضعیت و او دا تر ډېره په سیمه کې د چین د دوو سترو پروژو (یو کمربند – یوه لاره او د چین – پاکستان اقتصادي کوریډور) د پلي کېدو په تړاو د چین د اندېښنو ښودنه کوي. یعنې په دې معنی چې چین په سیمه کې د خپلو لویو اقتصادي پروژو پلي کولو لپاره تر ټولو ړومبی امنیت ته اړتیا لري او په افغانستان کې د سولې ټینګښت یې د لویو پروژو په پلي کولو کې مرسته کولای شي. په همدې موخه د افغانستان – پاکستان تر منځ د چین منځګړتیا او درې اړخیزې غونډې په ۲۰۱۷ کال کې په لومړي ځل د بهرنیو چارو وزیرانو په کچه پیل شوې، چې لومړۍ غونډه یې د همدې کال د ډسمبر میاشتې په وروستیو کې په بیجېنګ کې جوړه شوه. له یوې خوا چین تېر کال رسماً د افغانستان د سولې په بهیر کې د منځګړتیا او بین الافغاني تفاهم د اسانچارۍ لپاره چمتووالی ښود او له بله پلوه افغان حکومت په دې نظر دی چې د افغان سولې بهیر کې د پاکستان صادقانه همکاري اړینه ده. چین یوازینی هېواد دی چې پر پاکستان فشار راوړلی شي.
ځکه چین له پاکستان سره د ملګرتیا ژورې ستراتېژیکې اړیکې لري او د بیجېنګ – اسلام اباد اړیکې په ځانګړې توګه له اقتصادي اړخه پراخې دي. یوازې په ۲۰۱۵ کال کې پاکستان ته د چین د ولسمشر په سفر کې ۵۱ هوکړه لیکونه لاسلیک شول چې له مخې یې د پلي کېدونکو پروژو ارزښت ۴۶ میلیارده ډالره کېږي او د دغو لویو پروژو پلي کولو لپاره بیا په سیمه کې ټینګ امنیت ته اړتیا لیدل کېږي.

د افغانستان-پاکستان په اړیکو ښه کولو او افغان سوله کې د چین موخې د سویلي آسیا لپاره د امریکا نوې ستراتیژۍ پر وړاندې په غبرګون کې هم ښه موندلای شو. یعنې کله چې د سویلي آسیا لپاره امریکا خپله نوې ستراتیژي اعلان کړه، نو د روسیې سربېره چین هم د امریکا له نوې ستراتیژۍ سره مخالفت ښکاره کړ. د چین د بهرنیو چارو وزارت ویاندې د امریکا متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزیر ټیلرسن سره په ټیلیفوني خبرو کې د پاکستان په اړه د امریکا متحده ایالاتو د نویو دریځونو په هکله خپله

اندېښنه څرګنده کړه او د نوې ستراتېژۍ په تړاو یې زیاته کړه چې د پاکستان ځمکنۍ حاکمیت او مشروع اندېښنو ته باید درناوی وشي. دا لومړی او وروستی ځل نه دی چې چین له پاکستان سره خواخوږي څرګندوي، بلکې له دې وړاندې هم کله چې د کابل-اسلام آباد اړیکې په تاوتریخجن حالت کې وې، چین څو ځلې هڅه کړې وه چې کابل او اسلام آباد سره پخلا کړي او په یو نه یو ډول پاکستان ته برائت ورکړي، خو اساسي پوښتنه بیا دا ده چې چین ولې د پاکستان ننګه او له افغانستان سره یې د اړیکو ښه کولو هڅې کوي؟ د پوښتنې اصلي ځواب دا دی چې په سیمه کې په ځانګړي ډول بیا افغانستان کې د چین او پاکستان سیاسي رقیب یو دی. چین هم لکه د پاکستان په شان په افغانستان کې د هندوستان له نفوذه ډار لري. کله چې د پاکستان او افغانستان اړیکې بیخي ترینګلې شوې وې او افغانستان د پاکستان څو پلاوي نا امیده پاکستان ته رخصت کړل؛ چین فکر وکړ چې د افغانستان په سیاست کې د پاکستان ځنډې ته کېدل به په افغانستان کې لا نور د هندوستان نفوذ ته زمینه برابره کړي. هماغه و چې د کابل او اسلام اباد تر منځ د اړیکو رغولو د منځګړیتوب وړاندیز یې وکړ. اوس هم چین همدا ویره لري چې که چیري په افغانستان کې د پاکستان لاسونه لنډېږي، ځای به یې هندوستان نیسي، نو د همدې لپاره د پاکستان ننګه او د افغانستان په اړه د امریکا له ستراتیژۍ سره مخالفت کوي. همداراز چین نه غواړي چې د سیاست په نړیوال ډګر کې د خپل ستراتیژیک ملګري پاکستان حیثیت ته صدمه ورسیږي. یعنې له کله نه چې د پاکستان اصلي ترهګره څېره نړیوالو ته معلومه شوې چې په نړۍ کې ترهګري خپروي، نو ورسره سم چین هڅه پیل کړې، تر څو د پاکستان دغه تللی حیثیت بیرته ژوندی کړي. پاکستان د خپل ناوړه سیاست له امله چې په خپل کور کې ترهګرو ته خوندي پناه ځایونه ورکوي، د غربي هیوادونو له بې اعتمادۍ سره مخ شوی دی. وروستۍ بېلګه یې د خپل کلک ملاتړي هیواد امریکا مخالفت او پر وړاندې یې تند دریځ دی. چین نه غواړي چې پاکستان دې په سیمه کې اوسنی اهمیت چې د ترهګرو د روزلو له امله یې ترلاسه کړی، له لاسه ورکړي. همدا وجه ده چې وخت ناوخت یې د ملاتړ او ننګې غږ اوچتوي.

**پایله**

په دې وروستیو کلونو کې د افغانستان او چین د اړیکو غوړېدا او پیاوړتیا ته په سیمه ییزه او نړیواله کچه په ښه نیت کتل کېږي چې په دې منځ کې له یوې خوا افغانان له چین سره ښې اړیکې لري او چین هیڅکله هم د افغانستان په لوري د تېري نظر نه

لري او له بلې خوا بیا پاکستان په افغانستان کې د چین زیاتېدونکي رول او ستراتېژیکې ملګرتیا ته خوښ دی. ځکه د پاکستان له نظره چین کولی شي په دغه هېواد کې د هند د زیاتېدونکي رول او نفوذ ځای ډک کړي. که په اوسني وخت کې د پاکستان او چین سیاستونو ته وکتل شي، نو د دواړو ستراتېژیکو ملګرو سیاستونه هم تر یو څه حده په ټکر کې دي. ځکه چین په نورو هېوادونو کې د لاس وهنې او له نورو هېوادونو سره د شخړو سیاست پرمخ نه وړي، بلکې د اقتصادي سیاستونو له لارې غواړي خپل ځواک پراخ کړي، چې په دې لړ کې یې تقریبا ۵۷ ملیارده ډالره یوازې په پاکستان کې پانګونه کړې ده، خو پاکستان بیا په سیمه کې د ترهګرو ډلو ملاتړ او د ګاونډیو هېوادونو په کورنیو چارو کې د لاس وهنې سیاست ته دوام ورکوي. کوم څه چې اوس مهال په نړیواله کچه د پاکستان پرستېژ ته یې لوی زیان اړولی او د لوېدیځو هېوادونو ملاتړ یې له لاسه ورکړی دی. همدا لامل و چې د ۲۰۱۷ کال په وروستیو کې په لومړي ځل چین هم د پاکستان خلاف غبر پورته کړ او د همدې د برېکس سازمان په اعلامیه کې، چې چین یې مهم غړی دی، په پاکستان کې د وسله‌والو ډلو فعالیتونه غندل شوي وو. دا هغه څه دي چې په افغانانو کې یې د افغان سولې په هکله د چین د اغېزمن رول لوبولو هیلې پیدا کړې. چین چې په سیمه کې یو اقتصادي هېواد او د پاکستان ستراتیژیک ملګری ګڼل کېږي او د افغانستان په قضیه کې یې بیا تر اوسه پورې په خورا احتیاط قدمونه پورته کړي دي، خو له دې وروسته هڅه کوي، تر څو د خپلو اوږدمهالو ګټو او لویو اقتصادي پروژو پلي کولو لپاره د افغانستان په قضیه کې ځان ښکېل وساتي. دهمدې موخې لپاره یې په دې وروستیو کې په بیجینګ او کابل کې د افغانستان-پاکستان-چین درې اړخیزې غونډې پیل کړې او د افغانستان د سولې په برخه کې یې د مرستې غبر اوچت کړ. په پایله کې داسې ویلای شو چې کله په نړیواله کچه چین د افغانستان په تړاو د امریکا او روسیې په هوکړو کې رول لوبولی شي، نو له شک پرته په سیمه ییزه کچه د کابل -اسلام اباد اړیکو په رغولو او افغان سولې په برخه کې هم مرسته کولی شي.

**وړاندیزونه:**

چین اوس مهال په سیمه کې له یوې خوا یو ستر اقتصاد لرونکی هېواد ګڼل کېږي چې د افغانستان په ګډون د ټولې سیمې او ان د ټولې نړۍ لپاره یې سترې اقتصادي پروژې په لاره اچولي او له بلې خوا یو داسې ځواکمن اتومي ځواک لرونکی هېواد ګڼل کېږي چې د سیمې هېوادونو ترمنځ په اړیکو کې تل ځواکمن رول لوبوي، نو افغان دولت دې له چین سره خپلو ستراتیژیکو اړیکو پراختیا ته دوام ورکړي. ځکه یاد

هېواد کولای شي چې د افغانستان اقتصادي ودې، سیمه ییزو اړیکو او په ځانګړي ډول د افغان سولې په برخه کې مرسته وکړي. له بلې خوا دې افغان دولت له چین سره د ښو اړیکو په دوام سره چینایي چارواکو ته قناعت ور کړي چې د سیمې او افغانستان په تعاملاتو کې دې یو اړخیزې اړیکې نه ساتي او پر خپل ستراتیژیک ملګري پاکستان دې نور فشار راوړي چې له افغان دولت سره د مخامخ خبرو اترو ته د طالبانو په کېنولو کې خپل اغېزمن رول ولوبوي، تر څو په افغانستان کې سوله او امنیت ټینګ شي. کوم څه چې نه یوازې د افغانانو، بلکې د ټولې سیمې د هېوادونو په ګټه دی. ځکه په افغانستان کې سوله او ثبات د سیمې سولې او ثبات په معنی دی، خو که په افغانستان کې سوله ټینګه نه شي او جګړه دوام ومومي، نو له شک پرته به په سیمه او افغانستان کې د چین د سترو اقتصادي پروژو پلي کول هم ناشونې شي.

**مأخذونه**

[1] World economic forum, The world's biggest economies in 2018. See online at:https://www.weforum.org/agenda/2018/04/the-worlds-biggest-economies-in-2018/

[2] India Today, India-China War of 1962: How it started and what happened later, November 21, 2016. See online at:https://www.indiatoday.in/education-today/gk-current-affairs/story/india-china-war-of-1962-839077-2016-11-21

[۳] د ستراتیژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز، پاکستان ته د چین د ولسمشر سفر او پر سیمه یې اغېزې، ۲۰۱۵/۴/۶ ز. د لا ډېرو معلوماتو له پاره لاندې لینک ته مراجعه وکړئ:

http://csrskabul.com/pa/?p=898

[٤] خوشحال آصفي، سپرغی، چین؛ د پاکستان دویمه څېره، ۵/۶/۱۳۹۶. د لا ډېرو معلوماتو له پاره لاندې لینک ته مراجعه وکړئ:

http://sporghay.com/index.php/articles/politics/item/11036-chin-de-pakistan-doyema-sera

[5] Rabiya jabbar, Chinese forign polict towards Afghanistan, 2018/3/2. See online at:

https://www.academia.edu/31531466/CHINESE_FOREIGN_POLICY_TOWARDS_AFGHANISTAN

[۶] ببرک احساس، بی بی سی، نگاهی اجمالی به رابطه چین و افغانستان، ۲۰۱۰/۳/۲۴ز. د لا ډېرو معلوماتو له پاره لاندې لینک ته مراجعه وکړئ:

https://www.bbc.com/pashto/world-51386057?keepThis=true&TB_iframe

[7] Ahmad Bilal Khalil, The History of Chinese Mediation Between Afghanistan and Pakistan, January 05, 2018. See online at: https://thediplomat.com/2018/01/the-history-of-chinese-mediation-between-afghanistan-and-pakistan/

[۸] شمشاد نیوز، افغان سوله کې د چین رول اغېزمن تمامېدای شي، ۲۲ ، جدی ۱۳۹۷. د لا ډېرو معلوماتو له پاره لاندې لینک ته مراجعه وکړئ:

http://www.shamshadnews.com/index.php/news/1152-2019-01-12-12-50-01

[۹] آریانا نیوز خبري آژانس، امریکا په افغان سوله کې چین ته د رول ورکولو سره مخالفت ښودلی، ۱۹ لړم , ۱۳۹۷. د لا ډېرو معلوماتو له پاره لاندې لینک ته مراجعه وکړئ:

https://ariananews.co/ps/afghanistan

[۱۰] حکمت الله ځلاند، سپوږمۍ راډیو، افغان – چین ستراتېژیکه ملګرتیا او پر سیمه یې اغېزې، ۱۱ غویی ۱۳۹۷. د لا ډېرو معلوماتو له پاره لاندې لینک ته مراجعه وکړئ:

https://www.spogmairadio.af/index.php/writing/item/2626-2018-05-01-03-06-58